مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

عبدالستار ایوبي

۲۰۲۱/۱۲/۰۵

# د بشري ټولنې پارازیټونه

## دوهمه برخه

دا چې انحصاري سازمانونو دین څخه فقط د ثروت د تولید د پروسې د سرعت لپاره د کاري ځواک تشویقولو او د دوئ ترمنځ د نظم او ډسپلن ساتلو په مقصد کار اخیستی اوس په دې اړه نوو علمي څېړنو، میتوډونو، ماشینري او ټیکنالوجي د هغه موثره معادل پیدا کړی دی. همدا علت دی چې په نړی کي دوئ د دهریت پرچار پیل کړی دی او په ټولنو کي دیني ارزښتونه ورځ تر بلي ضعیفه کیږي. دا چې اسلامي ارزښتونه د خپل حقانیت په اساس تر نورو باطلو او تحریف سوو ادیانو د ارزښتونو په مقایسه ډیر مقاوم ثابتیږي د نورو ادیانو څخه استثناء بلل کیږي. اسلامي ارزښتونه یو خو محکم دي او بل د ټولني د اغلب کثریت او بېوزله تریني طبقې د بنسټیزو حقوقو دفاع کوي او فلسفه و احکام یې فوق العاده معقول او منتقي دي. هر شخص چې قرآن په تفهیم سره ولولي نو پرته د درنګه به دا ومني چې دا قرآن د هر یوه بشر لپاره د فردي خپلواکي قباله ده او د ده د بنسټیزو حقوقو مدافعې وکیل. نو په همدې اساس دوئ د اسلامي ارزښتونو د بینه وړلو په برخه کي نقده انعام (باونټي) اعلان کړې ده. اوس د چین دهري نظام هم پر ایغوریانو باندي تجارب پیل کړي دي. د هند بت پرستان هم د هند پر مسلمانانو باندي ډول ډول تجربې کوي. فرانسویان بیا کارټونونه پر جوړوي. د افغانستان، پاکستان او عربي نړی دهریان بیا د فحشاء، رقص و سرود ترویج ته کش ورکړی دی. په زرهاوو د اسلامي دین ږیره خریلي او ږیره وهلي علماء لګیا دي د علمانیت په تبرونو د اسلامي ارزښتونو پر ونه ګزارونه کوي. ټوله لګیا دي چې یوه داسي لار راوباسي چې د هغه په تطبیق سره د اسلام دین د مسلمانانو او په مجموع کي د ټوله بشریت په منځ کي داسي نیست و نابود کړي لکه د هسپانیې څخه چې مسلمانان ورک سول. دوئ د اسلام په ورکولو سره غواړي چې د هغه معنوي ارزښتونو فلسفه او منتق ورک کړي چې د بشري ټولنو د چارو او اړیکو په تنظیم کي د مادي ارزښتونو سره په سیالي کي تل برتره ثابتیږي او یو شخص یا یوه ډله د هغه په موجودیت کي مطلق انحصار تر ډیره حده نه سي ساتلای. په دې برخه کي دا سازمانونه ډیري پانګوني کوي. د مثال په توګه کله چې دا سازمانونه د اسلام د مبین دین سره مخامخ سول، په لمړي سر کي د دوئ ټوله شیطاني سیاستونه د الهي دین په ځپلو کي پاته راغلل. اسلام پر زناء او لواطت بندیزونه ولګول، خلګ یې د خپلو زینتونو پټولو ته وهڅول، د مسکراتو استعمال یې لغوه کړ او پر نارینه وو یې طلاء او وریښم حرام وګرزول. د خلګو د عامه خدماتو سرچینو انحصار یې وغانده او د هغوئ د وقفولو طریقه یې ترویج کړل. حکومت یې د عامه خدماتو څارونکی وګرځاوه او هغه مالیات چې د الله تعالی [ج] لخوا پر ثروتمندانو وضع سول، بیوزله، کونډیاني، یتیمان، بندیان، مسافر او نور اړ کسان یې د هغه مستحق وګرزول. د اسلامي قانون د ضعف نقطه داغه ده چې د ټولني د کمزورو، غافلو او بې وزلو ساتنه یې د ټولني پر لیوانو باندي واجب کړل، چې دا خبره پر ثروتمندانو او قدرتمندانو باندي درنه تمامیږي (کټمټ لکه یو فارغ الوباله شخص چې د کوڅې د کثافاتو په راټولولو مامور کړې). حال دا چې په واقعیت کي غافل او ویده انسانان په اوږدمهال کي بې وزله او غریب ګرزي. ویښ او خواریکښه انسانان په اوږدمهال کي د ثروت او قدرت سرچینو ته رسیږي. دا یو طبعي دوران دی چې په هرو څو نسلونو کي ثروت مندي کورنی غړي او د بېوزله کورنیو غړي یو له بله سره موقف الیشوي. دې سازمانونو په مسلمانانو کي د داسي قدرتمندانو او ثروت مندانو سره لاس یو کړ چې نه یې غوښتل چې د خپلې ټولني د بېوزلو په چوکیداري کي خپل ټول عمر تیر کړي. بلکه دا یې غوښتل چې د هغوئ لوڼي او خویندي ځانونو ته ورقصوي. د هغوئ ځوانان خپل مریان کړي او د خپل ثروت د زیاتوالي اله یې وګرزوي. دا وو چې لمړی یې شیعه فرقو په نوم داسي فکري یاغي ډلي رامنځته کړې چې د اسلام د بنسټیزو اخلاقي ارزښتونو څخه یې انکار کاوه. د بیلګي په توګه اسلام تل د رښتیا ویلو امر کړئ وو. شیعګانو به ویل چې مصلحتي دوراغ (تقیه) روا ده ځکه چې حضرت علي [رض] د لمړیو درو خلفاء راشدینو په لاس درواغجن بیعت کړی وو. که ده په درواغو دا درې خلفاء نه وای منلي. په مسلمانانو کي خونریزي رامنځته کیدل. دوهم دا چې کفارد قرآن په مثل کلام رامختة کولو کي عاجز سول نو شیعګانو په مرسته یې هڅه وکړل چې د قرآن اعتبار ور متضرره کړي. دا دعوه یې وکړل چې د قرآن هغه لس سیپارې چې د حضرت علي [رض] سره وې، هغه نه دي پکښي شاملي او خلفاء راشدینو په دې قرآن کي لاسوهنه کړې ده. چې دلیل ځني وپوښتې، دا دلیل وایي چې زموږ د ۱۲ امامانو نومونه ولي پکښي نه سته. چې


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځیر و لولـئ

زموږ د ۱۲ امامانو نومونه پکښيکي واى نو بيا دا قرآن (نعوذو بالله) نه وو تحريف سوى. په اسلام کي موقتي جنسي اړيکي منع سوي وې. دوئ راولاړ سول د صيغه (متع) په نوم يې زناء بيرته روا کړل. په دې دليل چې وايي حضرت علي [رض] د ابوالفضل عباس د مور سره صيغه کړې وه. يعني هر ناروا شی چې دوئ ځان ته روا کړی دی هغه يې يو ځل پر حضرت علي [رض] تړلی دی څو ځان ته يې روا کړي. هغه مبارک يې د دې ګناه مرتکب ثابت کړی دی بيا يې نو دا حرام شی ځانونو ته حلال کړی دی. دا چې د شيعګانو فتنې څومره اسلام او مسلمانانو ته زيان واړاوه او لا يې وراړوي، د هغه بحث څخه به تير سو. خو بيا هم د مسلمانانو اکثريت برخه اهل السنت والجماعت مسلمانان د نبوي اسلام سره خپلي اړيکي وساتلې او دا فتنه فقط د مسلمانانو د يوې کوچنۍ شهوت پرسته ډلي د ګمراه کولو سبب سول او د قرآن عظيم الشان تحريف چې د دې ډلي د رامنځته کيدو عمده هدف وو، هغه ناکام پاته سو. کله چې دا سازمانونه په دې پوه سول چې د قرآن عظيم الشان تحريف د دوئ د وس کار نه دی نو يې په مسلمانانو کي د تفرقې اچولو او د شريعت پر خپل خرخ راڅرخولو لپاره يوه بله دسيسه رامنځته کړل. دا چې د قرآن عظيم الشان د حفظ وروسته چې د نبوي امت خواخوږو امامانو ډيره توجه ورته وکړل هغه د نبي [ص] سنت او طريقه وه. چې د ژوند چاري او عبادات چې په څه طريقه نبي [ص] اجراء کولې، هغه په امت کي پاته سي او تحريف نه سي. په دې برخه کي که موږ د اسلام د څلورو امامانو هڅو ته متوجه سو، هغوئ هڅه کول چې نبي [ص] ته منصوبي واقعي خبري د فقهي مسائلو په تشريح کي حفظ کړي او بيغمبر [ص] ته منصوبي درواغ او تحريف سوي خبري د سند حيثيت غوره نه کړي. دا هغه د فتنې ډکي وختي وې چې اسلامي خلافت ړنګ سوی وو او مسلمانان د خودسره قريشي ډيکټاټورانو لخوا اداره کيدل. د امامانو د خدماتو په پايله کي اسلامي فقهي رامنځته سوې چې حنفي فقهه تر ټولو بارزه، غني او پياوړې فقهه پکښي ثابته سول. دا چې دې سازمانونو لپاره پيغمبر اکرم [ص] ته منصوبو د ځانه جوړو سوو روايتونو ته د سند ورکولو زمينه برابريدل، سل کاله تير سول او د موضوعي احاديثو فتنې د ۱۹۴ هجري څخه بيا تر ۲۷۹ هجري په زمانه کي سر راپورته کړ. دا هغه وختي وې چې د تابعينو د خواريو په برکت واکمنه طبقه د علم په افاديت پوه سوې وه او د تعليم نظام پرمختګ کړی وو. کاغذ، قلم او سياهي هم پريمانه سوې وه. په داسي وختو کي د يهودي سازمانونو ستر ارمان يعني د نبوي سنت د تحريف فتنې د صحاح سته (شپږ صحيح کتابونه) په نوم عملي بڼه غوره کړل. د اسلام د فقهي د تدوين او علمي عروج زمانه د هارون رشيد تر زمانې پوري وه. په دې وخت کي څلورو اسلامي فقهوو په عامو مسلمانانو باندي پراخ نفوذ خپور کړی وو او مسلمان ولسونه دومره پوه سوي وه چې د خپلو واکمنانو څخه يې د بنسټيزو اسلامي اصولو پابيندي غوښتل. د هارون رشيد زوی الامين څخه بيا د المقتدر پوري زمانه د عباسيانو د انحطاط زمانه وه چې د خراسانيانو فتنې اوج ته رسيدلې وې او د خراسانيانو وروسته د منګوليانو فتنو نور هم اسلامي تمدن ته زيان واړاوه. د بصيرت خاوندان حتماً دې نقطې ته متوجه کيږي چې د صحاح سته د سلسلې دا شپږ ليکوالان او شپږ کتابونه (صحيح مسلم، سنن نسايي، سنن ابو داود، سنن ترميذي، سنن ابن ماجه او صحيح بخاري) په پرله پسې توګه به داسي زمانه کي ظهور کوي چې اصلاً اسلامي نړۍ د يوې مسئوليت پزيره سياسي رهبري څخه بې برخې ده. دا هغه زمانه وه چې پر اسلامي نړۍ واکمنو د قريشي کورنيو خليفه ګانو دا ټولنه کټ مټ په داسي طريقه اداره کول لکه د صليبي جنګونو په زمانه کي چې اروپايي واکمنانو د اروپا ملتونه اداره کول. دلته دا سوال پيدا کيږي چې و دې شپږو کتابونو ته چا د صحاحو لقب ورکړ. عجيبه لا داده چې د صحاح سته په پلويانو کي بيا خپله اختلافات راپورته سول چې شپږ سره صحيح نه دي يوازي دا صحيح بخاري او صحيح مسلم صحيح دي هغه نور څلور نه دي صحيح. دلته عام مسلمان ته به دا سوال پيدا سي چې د احاديثو داسي مجموعې سته چې په امت (اهل السنت والجماعت) کي د پخوا څخه ډيري معتبري وې لکه د امام مالک [رح] موتا. داسي نور مستند د احاديثو مجموعې هم وې چې د څلورو فقهو په علماوو کي يې اعتبار لاره خو په هغو کي يو هم د دې صحاحو په مجموعه کي نه سو شامل. بيا چې دا خبره مطلق د نظره وباسو چې د بعثت څخه تر ۱۰۰ کاله زياتي زمانې وروسته څنګه امکان لري چې يو څوک دي اصلي احاديث د جعلي احاديثو څخه فلټر کړي او داسي فکر وکړو چې دا ښاغلی امام بخاري صاحب او امام مسلم صاحب (دا چې دوئ منظم پيرويان نه لرل د امام د لقب مستحق خو نه راځي خو د اختلاف د ختم لپاره به يې موقتاً په امامامو کي شمار کړو) بيخي د پيغمبر اکرم [ص] په زمانه کي تير سوي دي او د احاديثو د صحت د پرتله کولو اصول يې ټوله ورسره ومنو. حد اقل په دې مجموعو کي بايد داسي خبره نه وي موجوده چې هغه د دوئ صحت غلط ثابت کړي. د بيلګي په توګه په خپله وينا کي اختلاف. که چيري د صحيح بخاري کتاب په يوه حديث کي راغلې موضوع د داغه کتاب بل حديث غلطه ثابت کړي نو بيا موږ وايو چې دا مجموعه په خپل منځ کي اختلاف لري نو دې ته موږ په هيڅ صورت صحيح نه سو ويلای. دا وهابيان، يا سلفيان، يا اهل الحديث هغه فرقه ده چې د دې شپږو صحاحو پر بنسټ يې د اهل السنت والجماعت د څلورو سره فقهو څخه بغاوت وکړ او د دې فقهوو پيرويان يې مقلدين وبلل او تقليد يې بيخي د ښکنځلو معادل لغات وګرزاوه. اوس چې د يوه سلفي زوی بد چم وکړي. دا نه ورته وايي چې د سپي زو يا د خره زو. ورته وايي چې او د مقلد زو. دوئ وايي چې دا شپږ د احاديثو مجموعو او قرآن شريف ته د لاس رسي په صورت کي موږ خپله هره مسئله را ايستلای سو. هيڅ يو مسلمان اوس و دې تدوين سوي فقهي ته اړتيا نلري او نه يې هم د اصولو مرائتولوباندي مکلف دی بلکه دې څلورو فقهو ته د فرقو نوم ورکوي. نن موږ عملاً وينو چې اهل حديث ورځ تر بلي دومره په تفرقه او اختلاف کي لويدلي دي چې د



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

هر سلفي عالم دين شاګرد چې خپلي زده کړي تکميلي کړي پر ټلويزون يا يوټيوب يې ويډيو وينو چې د خپل استاد خبري غلطي ثابتوي. ښه مثال يې دا ذاکر نايک دی چې د اهل حديثو او سلفيانو د ډلي سره يوځای کيدو سره يې مالي سرچينې وموندلې اوس خپل ټي وي چينل لري، لاکن اوس غواړي چې د اهل صحيح حديث تر عنوان لاندي خپله ډله د اهل الحديثو څخه جلا کړي. دلته د دې پراخي تفرقې علت دغه په صحاح سته کي موجود داخلي اختلاف دی (يعني کله چې يو کتاب يا يوه د کتابونو مجموعه صحيح ومنو نو په هغوئ کي موجود تضاد او اختلاف مو هم صحيح وبلی، بيا موږ د عمل په ډګر کي دا اختلاف نامشروع نه سو بلالی). يعني کومو علماوو چې دا کتابونه وليکل او کومو واکمنانو چې د دې کتابونو په نشر کي مرسته وکړل هغه په دې اختلاف خبر وه. هغوئ قصداً دا کار وکړ چې هغه مسلمانان چې د شيعت په دام کي راګير نه سول، هغوئ د شرکي تصوف په فرقو کي راګير کړي او هغه چې د دې دامه ووځي هغه بيا د اهل الحديثو په دام کي راګير سي او په دې کار سره دوئ پر يوه شريعت باندي د دوئ د تجمع مخه ونيول سي. دا ځکه چې که د مسلمانانو يوه اعظمه کتله پر يوه فقهي مجموعه باندي اتفاق وکړي نو بيا واکمنان، ثروتمندان د هغه د بنيادي اصولو پايندي ته مجبوريږي. علماء به د ځانه اوتي بوتي نه سي ويلای. يو عادي د روزانې مزدور به ورته پورته کيږي چې ښاغلی مولانا صاحب، برايي مي فلانی کتاب کتی ستا دا خبره پکښې رد سوې ده. اوس خو چې عالم ته دا خبره وکړې، دستي درته وايي چې هغه فلانی کتاب دې لکه چې نه دی کتلی يا د داغه کتاب هغه بله صفحه بيا بيرته زما خبره تائيدوي. يعني زموږ دا پلورل سوي علماء کټ مټ دبني اسرائيلو د علماوو په څير د صحاح سته په شکل احاديثو مجموعې ته داسي تحريف سوې ښه ورکړې ده چې يوځای کي پکښې راځي چې په لمانځه کي نارينه لاسونه پر تيانو ونيسي، بل ځای کي بيا راغلي چې ايله يې ونيسئ، بل ځای کي بيا تر نامه لاندي.... يعني عام مسلمان يې په دين کي ورک کړی دی څو دوئ خپله دوکانداري پر ټولو وچلوي. و دې زريفي نقطې ته بيا نه دي متوجه چې کله د دين احکام مبهم سي نو په عوامو کي د دين څخه د انحراف ميلان زياتيږي.
دې سازمانونو د مادي ارزښتونو د انحصار په برخه کي بشپړ تخصص لاسته راوړی دی. دوئ د اقتصادي فعاليتونو څخه لاسته راغلي عوايدو د ويش د تنظيم په سيسټم کي د نفوذ د لاري د ثروت پراخ زخاير رامنځته کوي. بيا د ثروت د دې پراخو زخايرو په مټ د بارسوخو، ماهرو او هغه استعداد لرونکو اشخاصو د پيرلو هڅې کوي کوم چې په عادي شرايطو کي د خپلې ټولني د ټولنيز ژوند د سمون په لاره کي هڅه و هاند کوي. داسي خلګ الله تعا لی ج د ټولنو د وګړو د ټولنيز ژوند د اداره کولو لپاره پيدا کړي دي. دا پديده د ټولنيز ژوند لرونکو حشراتو لکه ميږيان، اوينه، مچمچۍ او داسي نورو د ځالي په مطالعه کي مشاهده کولای سو. ماده حشره يو ډول هګۍ اچوي خو د ځينو څخه کاريګر ميږيان، د ځينو څخه عسکر ميږيان، خيني يې ماده او ځيني يې نر ميږيان ځني جوړيږي.

دا سازمانونه چې کله يوه ټولنه د بريد لاندي راولي نو لمړی د ټولني رهبري نظام مطالعه کوي. که چيري د يوې ټولني رهبري نظام داسي وي چې و يوه شخص، يا د اشخاصو يوې ډلي ته يې د ستر اعتبار په اساس خپلو ساختارونو د اداره کولو واک سپارلی وي او دا امتياز ميراثي بڼه ولري نو دا مافياوي د واکمن شخص يا واکمني ډلي ته د شراکت وړانديز کوي. شراکت عموماً په داسي عايداتي پروژه کي کيږي چې د اړوند واکمن د اداري لاندي جغرافيې څخه بهر وي. دا ځکه چې دا مافياوي د توليد د سرچينو د استحصال د لاري ګټه کوي چې په دې کي د انسانانو د طبعي زيرمو د لوټلو او کله هم د انسانانو د غلاکولو فعاليتونه پکښې شامل وي. لوستونکی به وايي چې دا کارونه خو عموماً د جګړو پر مهال امکان لري چې يو هيواد پر بل هيواد بريد کوي او دا خبره يې صحيح ده. دا سازمانونه خپله ګټه په داسي شکل پلټي چې يوه بشري ټولنه دومره ضعيفه کړي چې هغه د بهرني يرغل په مقابل کي د مقاومت توان دلاسه ورکړي او بله ټولنه بيا دومره پياوړې کړي چې يرغل ته اماده سي. کله چې د يوې پياوړي ټولني رهبري د دوئ سره شراکتونه پيل کړي نو د شراکت يو شرط دا هم وي چې دې سازمانونو ته په خپله قلمرو کي د ازادانه فعاليت اجازه ورکړي. دا سازمانونه په هغه ټولنو کي خلګ استخداموي او خپل اثرورسوخ پراخوي. دوئ خپل مستخدمين تشويقوي چې په ټولنو کي په جلا جلا توګه جلب وجذب وکړي څو د رهبريو فرعي محراقونه رامنځته سي. کله چې موږ د يوې ټولني انسانان وينو چې په فرقو ويشل سوي دي، يو دبله بد وړي، په ځپل منځ کي شخړي سره کوي او يو له بله غلاوي او خطا ايستل سره کوي او مشران يې يو له بله سره په روابطو کي هم وي؛ بايد پوه سو چې د نړيوالو سازمانونو د جلب وجذب پروسه په خړپ و ترپ سره دوام لري. کله چې د يوې ټولني وګړي په خپل منځ کي سره وويشل سي نو بيا دا سازمانونه د رهبري د رديفونو د دوهم صف او دريم صف رهبرانو د غير رسمي او نامشروع استخدام پروسه پيلوي. کله چې دا مرحله تکميل سي نو د رديف د لمړي صف د رهبر يا رهبرانو پر ضد کودتاه رامنځته کوي. په دې کار سره دا سازمانونه په ګټه کي خپل شراکتداران دبينه وړي او د هغوئ پر ځای د خپلو اجيرانو په توګه دا دوهم صف رهبري واک ته رسوي. کله چې د دوهم صف رهبري په زوره واک تر لاسه کړي نو د پيله څخه د هغه عمومي ولسي اعتبار او مشروعيت څخه بې برخي وي چې د لمړي صف رهبري ځني برخمنه وه. په ټولنه کي بغاوتونه او مخالفتونه پيليږي او ولسي دواطلبه جنګيالي د يوې معتبره رهبري د احياء لپاره وسلواله مبارزه پيلوي. ټولنه د کورنۍ جګړې خوا ته ځي او دا


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

سازمانونه د يوې بلې سالمي ټولني د رهبري سره په پټه خوله په جګړه ځپلې ټولنه د يرغل په پروژه کي شراکت کوي. دا سازمانونه کله کله د يوه ولس پر ضد د دوو يا درو دولتونو سره هم خبره کوي. هر څومره چې د شراکت متمني دولتونه زياتيږي هغومره د دې سازمانونو لپاره د چنه وهلو او خپلې ګټي د لوړولو زميني هم زياتيږي. د دې پروسې ښه مثال په امريکا کي د ولس مشر کنيډي وژنه او په افغانستان کي د محمدزيو شاهي نظام ړنګيدل راوړلای سو. کنيډي او ظاهر شاه په افغانستان کي د کوکنارو د کښت او قاچاق په کاربار کي د مليارډونو ډالرو سهيمان وه. کينيډي او ظاهرشاه يو له بل سره شخصي ملګرتيا اړيکي لرلې چې په دې اساس د امريکا نورو چارواکو په افغانستان کي د کوکنارو د کښت په چارو کي مستقيمه مداخله نه سوای کولای. دا چې دې سازمانونو په امريکا کي کينيډي وواژه او په افغانستان کي شاهي نظام ړنګيدو وروسته کورنۍ جګړه رامنځته سول او هيواد ته د امريکا سيال شوروي خپل عسکر راوستل. طبعي خبره وه چې د امريکا يوې استخباراتي ادارې ته د مداخلې لار خلاصه سول ځو مستقيماً هغه قاچاقبر استخدام کړي چې د بزرګرانو څخه په ناچيزه بيه ازاد بازار د قابت د لارې د ګرانبيه مخدراتو خام مواد تر لاسه کړي. په دې مثال کي موږ ته دا خبره دومره مهمه نه ده چې په افغانستان کي د مخدره توکو د خامو موادو د پلور د ګټي زياته برخه چا انحصار کړل. بلکه مهمه خبره دا ده چې د مليونونو وګړو څخه جوړ افغان ولس اويا و اتيا کاله د يوې عياشي کورنۍ د ځو غړو د بوټو تليان څټل او په ټولو ونه توانيدل چې د دې کورنۍ واک ورنسکور کړي او خپل سياسي حقوق بيرته لاسته راوړي او يوه وړوکې مافيا د خپل پراخ پروګرام د يوه وړوکي فعاليت په ترڅ کي د دې کورنۍ اقتدار ته د ګوتو په ځنډلو د پای ټکی ايږدي. دلته موږ پوهيدلای سو چې دا سازمان يا د سازمانونو اتحاديه څومره پياوړې ده، يا دا چې د دوئ په مقايسه موږ منحيث د يوه ملت څومره ضعيفه يو. په نړۍ کي مطلق ضعيفه نسته چيله د انسانه څخه او مطلق پياوړی نسته پرته د الله تعالی ج څخه. د انسانانو په منځ کي ضعف او قوت نسبي جنبه لري او دا نسبت متحول حالت لري او مطلق نه دی. نن چې موږ دا سازمانونه وينو چې د نړۍ په هر هيواد کي د خپلي خوښي حکومت په رامنځته کولو يا د خپلو ولسونو د نارضايتي سربيره پر واک ساتلو کي دومره برياليي دي، دا معنا نلري چې دوئ مطلق ځواکمن دي، دا په دې معنا ده چې موږ د دوئ په نسبت ضعيفه يو. په سوريه کي ولس د علويانو د باند د واکمني پر ضد راپورته سو. په مليونونو انسانان يې ووژل سول (چې ځني يې مردار سوي او ځني يې شهيدان سوي دي). خو د بشار الاسد پر خپل واک پاته سو او د روسي ځواک تر چتهري لاندي بيرته د واک د دوام هيله هم ورته پيدا سوې ده. عام سورياييان به لکه سپي بيرته غاړه ورته ايږدي. په عراق کي د صدام حکومت چې بيا دې سازمانونو يې د بينه وړل وغوښتل، هغه يې په ډير برياليتوب سره يې په ظرف کي د يوې مياشتي د بينه يووړ. د طالبانو حکومت خو يې په يوه پوف داسي باد باد کړ چې دا زموږ د انبياوو وارثين تر اوسه پوري حيران دي چې دا څه راوسول. خپل مقتديان راته بلا سول. هغه چې په موږ پسي يې تراويح کولې په هغوئ کي د سي آی اې هغه جاسوسان هم راوختل چې په سټلايټ کي به يې د طالبانو د پوستو کورډيناټونه ورکول. د ملا خاکسار دا به په هغه شپو کي چا زړه ته اچولي وای چې د شورا نظار ايجنټ دی او اوس هم ډير خلګ دا خبره زړه ته نه اچوي چې دا ملا يعقوب، حقاني برادران، ملا عباس ستانکزی، سهيل شاهين، ذبيح الله مجاهد، اميرخان متقي او شهاب الدين دلاور دي د کفارو جاسوسان وي (که څه هم د لوبي تحولانو ښه سم په رسمي ډول رسوا کړي دي). وای چې د پښ کور وسو، ښه سو. د ۱۱/۹ پيښه او د افغانستان اسلامي امارت سقوط دوئ ته يوه ګټه وکړل چې يو څه خاکساره سول. اوس چې ورته ووايې چې دا سهيل شاهين، مولوي شهاب الدين دلاور، قاري يوسف احمدي، عباس ستانکزی، انس حقاني ډاکټر نعيم او دا نور ټوله د يهودي سازمانونو اجيران دي چې په دې سړو او تودو کي نه يو ځني په پاکستان کي بندي سو، نه زخمي سو، نه شهيد سو؛ که يې زړه ته نه اچوي، هغه د پخوا په شان ګريوان ته نه در حمله کوي. د عباس ستانکزي په اړه خو ټوله طالبان معلومات لري چې د مسکو څخه راغلي. انس حقاني په عربي هيوادونو کي خپلي عياشۍ کولې، چې د طالبانو لپاره د ډيپلوماسي په ډګر کي دروازې خلاصي سوې په تلوار يې راوستی پل چرخي ته او د دې ځايه قطر ته ولاړی. انس حقاني و سراج الدين حقاني په وچه کلکه سپينسترګي ځانونه په پلچرخي او بګرام کي په واسطه بنديان کړل ځو په راتلونکي کي سياسي کريډيټ واخلي. که نه په دې محبسونو کي د بندي کيدولو حق د هغه طالبانو وو چې د جهادي عملياتو په ترڅ کي بنديان سوي وه. د پل چرخي اصلي بنديانو ته د هغوئ بند هيڅ ګټه ونه کړل او دا په واسطه بنديان سوي هغه دی پر موږ باندي حکومت کوي. هغه نور هم چا په اسلام اباد کي او چا په حيات آباد کي خپل مالونه وهل، چې د قطر دفتر خلاص سو بيا يې د قطر په دفتر کي خپل روشونه وهل. د تيرو شلو کالو د جګړو په طالبانو کي ډير با استعداده، مخلص او د اتلولي سابقه لرونکي خلګ راپورته سول، يوه هم داسي ترفع نه ده کړې چې مهم ډيپلوماټيک موقف ته دي رسيدلی وي. هغه د تيرو ديرښو او څلويښتو کلونو لايق رهبران يې ډير شهيدان سول يا پر کورنو کښينستل. په کويټه کي د طالبانو پر مشرانو چاودني وسوې، ځوک ووېشتل سول، ځوک بمبار سول، ځوک د پيښور په روغتونونو کي په مرموز ډول ووژل سول، ددې لپاره چې دا ډاکټر نعيم، عباس ستانکزي، انس حقاني، شهاب الدين دلاور، قاري يوسف و دوئ ته ورته نورو بې کفايته جاسوسانو ته ميدان شغالي سي. د هيواد دا وروستي سياسي تحولاتو هم ډيره مرموزه او غير معقوله جنبه لرل. د طالبانو په رهبري کي چې کومو مشرانو د جګړې د شدت او د جنوبي برخو په ښارونو د بريدونو خبري کولې، کله چې طالبانو جګړه پيل کړل نو بيا هم دوئ وه چې دښمن سرسخته مقاومت کونکو ته د



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

لار ورکولو قومندې يې ورکولې او عامه عفو يې ورته کول. هغه ملي اردو چې پر کليو او کورونو او ولسي ميله ځايونو يې د ډې سي توپونو بريدونه کول، چې کله جګړې زور واخيستی نو داغه ملي اردو جنګ نه کاوه او طالبانو ته تسليميدل او طالبانو هم د جيب خرڅ سره خپلو کورونو ته استول. اوس ټوله نړۍ خبره ده چې د طالبانو په صفوفو کې د ژبورو، زړه ورو، ديانتدارو او پوهانو کمښت نسته. د طالبانو د رهبرې پر مهمو موقفونو باندې د کمزورو استعدادونو او کمزورې سابقې شخص موجوديت په هيڅ صورت د توجه وړ نه دی. عام طالبان هم دا شيان ويني چې يو څه عاجزه سوي دي. په سياسي مبارزو کې د عجز او خاکسارې علامه د هغه د پياوړتيا نښه ده. پخوا چې مو ورته وويل چې د داسي اميرالمومنين اطاعت مطلق حرام دی چې د کافرانو په لاس کې وي، جنګ به يې درسره کاوه. کله چې د ملا محمد عمر په موضوع کې د سليمان علیه سلام د پيريانو کانه په وسول (هغه مړ وو او دې فدايانو به د فدايي عملياتو څخه وړاندې پيغامونه وراستول چې موږ خو لاړو په دې دنيا کې به ته زموږ د قربانيو ثمرې ساتې، دا چې بيا دا انتحاري ورسته عالم برزخ ته رسيدلی وي او لوی ملا صاحب يې هلته ليدلی وي. بيا به يې نو خود جنجال ورسره کړی وي چې ته دلته څه کوې؟ موږ چې ويل ته هلته يې....که داسي خبر وای نو موږ انتحاري څه کوئ ستا د تشي ډکولو هڅه به مو کولای....دی به ورته وايي چې تاسي خپله بېباکه ياست، فدايي بريد ته د تللو څخه وړاندې به مو زما د ليدلو غوښتنه کولای)؛ اوس چې ورته ووايې چې ملاهيبت الله اخنزاده هم وژل سوی دی، نو لړ تر لړه جنګ نه ځني کيږي. ځکه چې دومره پوه سوي دي چې احتمال يې سته. داسي اميرالمومنين چې هره جمع پر منبر ونه دريږي او خطبه راته ونه وايي او چې د خطبې د پيل تر مخه ولس يو سپيناوی ځني وغواړي، دی سپيناوی ورنه کړي؛ اميرالمومنين نه دی او نه کيدای سي. .

دا سازمانونه يوازې په هغه ټولنو کې د اقتدار د جګړې د اورلمبو وژلو ته زمينه برابروي چې په دې پوه سي چې په هغه ټولنه کې د خپل يوه بنسټيز حق يعني خپلواکي مدعي نور نه دی پاته او هغه ټولنه نور د دوئ چور او چپاو ته لکه د بې ښتنه ډک کور اماده پرته ده. د يوه انسان د خپلواکي حق په دې معنا دی چې دی د نورو انسانانو سره د ځمکي د طبعي سرچينو په تصرف کې شراکتداره دی. کله چې دا شخص خپل د خپلواکي تر حق تير سي نو بيا طبعاً د دې نړيوالو مافياوو مريی دی چې د ده څښاک، خوراک، پوښاک، عزت، حيثيت، ملکيت، ژوند، مرګ ټوله د همدې مافياوو په واک کې دي. دا مافياوې د خپلو لاسپوڅو افرادو او حکومتونو په هر صورت دفاع کوي تر هغه وخته چې اړتيا ورته ولري او د دوئ اړتيا نه ختميدونکې ده. دوئ تر مرګه د دې مريي څخه کار اخلي. هو هغه مهال نور دا شخص د دوئ نه دی په کار چې کله يې خپله خپلواکي وغوښتله. د اسلام سپيڅلي مبين دين د مريیتوب پديده بشپړ نه ده لغوه کړې، ځکه چې د ډيرو احمقو او کمزورو انسانانو پالنه د ډيرو ثروتمندو او زوررو لخوا د همدې مريي او بادار د تعلق په اساس کيږي او ډير انسانان خپله خوښوي چې مريي يا وينځياني و اوسيږي. د هغه په عوض يې پر بادار باندې د مريي يو شمير حقوق تعين کړي دي. هغه دا چې مريی او مينځه د واده حق لري، د خپلو عوايدو د ملکيت حق لري (بادار تنها پر دې عوايدو باندي د ماليې د تعينولو حق لري). اسلام د مريي ازادول يو د ثواب کار بللی دی او امت يې تشويق کړی دی چې د مريانو په ازادولو کې مرسته وکړي. موږ کولای سو چې د صدقاتو پيسې د غاړو په ازادولو کې ولګوو. يو شی چې تل په مسلمانانو کې ډير حساس پاته سوی دی، هغه د کافر مسلمان سوي مريان دي. مسلمانانو به حتی د هجرت څخه وړاندې کلونو کې هڅه کول چې د کفارو مسلمان سوي مريان په پيسو رانيسي او هغوئ ازاد کړي. دا چې موږ کله کله خبريږو چې اروپايانو پر افريقا بريدونه وکړل نو ډير اسلامي هيوادونه يې هم فتح کړل او مسلمانان به يې مريان ګرزول. دلته د هغه وخت د قريشيانو مسئوليتپزيري تر سوال لاندې راځي چې هميش يې د پيغمبر ص سره د نيژدې والي له سببه د امارت د حق دعوې لرلي دي. چې هر ځای چې په غير جنګي يا غير بحراني حالاتو کې مسلمانان خپل مشر ټاکي نو يو شمير غابښک (هغه د مخ دوه غابښه چې يې غټ وي) علماء کښيني چې وګورئ، که يو قريشي يا اهل بيت (سادات) موجود وي، حق اوليت و هغه نه ورکړئ. په هر صورت! کله چې د دې مافيايو غړی د کوم داسي جرم مرتکب سي چې جزاء يې د هغه هيواد په قانون کې مرګ وي، په هغه هيواد کې قاضي، څارنوال او واکمن ته امر کوي چې دا شخص وژغوره، او په ورته وخت کې چې عادي سړی ورته جرم وکړي هغه اعداميږي. يعني د يو عادي مجرم موږ د سزا څخه په هغه صورت هم نه سو ژغورلای چې قانون ورته واړوو. خو د دې سازمانونو اجير دنافذه قوانينو د قيده ښوی وځي. مثال؟؟؟؟ جنرال پرويز مشرف، عبدالفتاح سيسي، بشار الاسد...... ځکه نو دا خبره ډيره اړينه ده چې د ټولني خلګ د قانون څخه سرغړوني د نيژدې څخه و څاري. عاملين يې وپيژني او د هغوئ په سزا رسيدلو پروسه وڅاري. دا خبره ځکه ډيره مهمه ده چې په دې مافياوو باندي روږد ډير داسي د کرايي قاتلين سته چې د دې مافياوو لپاره د قتل خدمات سر ته رسوي او د مافياوو لخوا د قانون څخه ورکړل سوي معافيت څخه د لوچګي او د شخصي اهدافو لپاره د خلګو د حقوقو تر پښو لاندې کولو کار اخلي. د عصمتيانو او رازقيانو د مظالمو په شپو کې ډير داسي اڅکزي وه چې د يوه ډير ناچيزه دولتي موقف په مټ يې ستر ستر ظلمونه کول او د طالبانو په تيره دوره کې به چې هر نورزی د ملابخت ماد و د حافظ مجيد آلو په شفتالو خپل وو نو ټوله کندهاريان به يې خپل مريان بلل. کله چې د يوه هيواد ولس د خپلو داسي واکمنانو پر ضد عمومي پاڅون وکړي چې د هغه بقاء د دې سازمانونو اړتيا وي نو د هغه هيواد د خپلواکي مبارزې څخه د کرکټ ټيسټ سيالي جوړه سي. وروره يو وار خپلواکي غوښتونکي په څو ډلو وويشل سي، بيا نوي ډلي پکښي پيدا سي. بيا د دې ډلو څخه ځيني په خپل منځ کې سره


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

وخوري. ځيني يې بيا پټ د ظالمو واکمنانو د استخباراتو سره معاملې پيل کړي. د حکومت پرزولو يوه رسمي نورماله پروسه پر غوايمه واوړي. يو مثال يې سوريه ده، بل مثال يې ليبيا ده او دريم مثال يې په مصر دی، څلورم مثال يې فلسطين، پنځم مثال يې الجزاير او داغسي پسي ورځه. حسن مبارک ملعون پر ضد ولس راپورته سو او پاڅون يې د عبدالفتاح السيسي ملعون پر واکمني پای ته ورسيدی. هو، دا يوه نورماله پروسه ده چې ولس ته داثابته سي چې واکمن فاسد سوی دی بايد ليري سي او يا واکمن نظام ټوله فاسد سوی دی، بايد د بيخه و ايستل سي. فساد په هيڅ صورت سره جواز نلري. لکه په يوه ټولنه کي چې يو شخص لوجګي پيل کړي، څو شريف اشخاص يې پر ضد باندي دريږي. چې څو اشخاص په اتفاق سره لوچګي پيل کړي ټوله قوم يې پر ضد باندي دريږي. کله چې يو قوم په اتفاق سره لوچګي پيل کړي، څو اقوام يې پر ضد باندي دريږي. او کله چې يو ملت لوچګي پيل کړي نو بيا ملتونه يې پر ضد باندي دريږي. دا ځکه چې د لوچګي سلوک د بشريت ټولنيز نظام لپاره د زهرو حيثيت لري، که دا ټولنيز نظام د يوه هيواد داخلي نظام فرض کړو، د څو هيوادونو خپل منځی ټولنيز نظام فرض کړو او که ټوله نړيوال چاپيرياِل فرض کړو.
دا نړۍ د بشريت ګډ کور دې. د اويجي پر مخ چې څه جګړې کيږي، انسانان پکښي تلف کيږي، طبعي زيرمي د بينه ځي، د پياوړو انسانانو نسلونه پکښي خرابيږي. په پايله کي يې د يوه مشخص زمانه په محدوده کي ژوند لرونکي يوڅو انسانان موقتاً يوه ناچيزه ګټه ترلاسه کوي.
په دې خو ټوله اسلام او کفر موافق دی (په استثنا د ځينو مشرکو صوفي فرقو څخه) چې دا نړۍ درالاسباب ده. يو الله تعالی ج بلاکيف اجرآت کولای سي، انسان چې هر څه کوي د اسبابو په مټ يې کوي. دا نړيوال يهودي سازمانونه هم خپلي لوبې په بلاکيف ډول پر مخ نه بيايي. په هره ټولنه کي خپل اجيران لري، چې د واک ګدۍ ته دې سازمانونو رسولي وي. هغه يې ساتي او هغه يې روزي. او يو خاين او فاسد شخص که د دوئ منظم اجير نه وي، هم داسي دی لکه د دوئ قراردادي. ځکه چې څوک فساد کوي د زر، ښځي، هلک او ځمکي لپاره يې کوي. دا سازمانونه دا هر څه په عالي کيفيت ورته برابرولای سي. دا چې نړيوال يهودي سازمانونه يوه ټولنه څنګه ضعيفه کوي، يو څو تکتيکونه به يې لاندي ذکر کړو نور قضاوت دي پر لوستونکو پاته وي چې زموږ په چاپيرياِل کي په واقعت سره دا لوبې جريان لري او که نه. بيا کيدای سي چې موږ ته دا سوال هم حل سي چې دا زيد اخندزاده و حماد اخندزاده ولي يو ځل رباني و حکمتيار خطا ايستل او بيا ملا عمر و جلال الدين کباړي (حقاني) خطا ايستل او بيا هم د سياسي سودابازيو څخه لاسونه نه اخلي.
تر ټولو عامه حربه د دې سازمانونو د دايمي عوايدو د سرچينو لاسته راړلو تکتيک دی. عام انسانان د عوايدو لاسته راړلو لپاره داسي خدمات او مصنوعات ټولني ته وړاندي کوي چې هغه د ټولني د عامو وګړو مبرمه اړتيا وي لکه غذا، جامې، کسب، بشري قوا. دا سازمانونه د انسان د اړتياوو پر ځای د انسان د خواهشاتو د تسکين پر مصنوعاتو باندي پانګونه کوي لکه مسکرات، مخدرات، جنسي خواهشاتو تسکينونکي اسباب او ساعت تيري لوازم. د ټولي نړۍ فاحشه خانې، شراب خانې، تفريحځايونه او مخدره موادو کاروبارونه د دې سازمانونو په لاس کي دي. په دې برخه کي د دوئ مهم تکتيک د انحصار دی. کله چې د يوې ټولني د اړتياوو دوامداره اړتيا مشخصه سي، دا سازمانونه او د دوئ اجيران هغه کاروبار د انحصار هڅه کوي. نور خلګ نه پريږدي چې د پراخيدونکي بشري اړتيا په وړاندي عرضه وکړي (يعني انحصار معنا دا چې هرڅومره د اړتيا سرچينې قبضه کولای سې، هغه قبضه کړه او هغه چې نه سې قبضه کولای هغه تخريب کړه). په عامه اصطلاح کي دې ته قبضه ويل کيږي. دا سازمانونه خپل مريان ټولني ته د خپلواکو سرمايه داره شخصي متشبثينو په توګه وړاندي کوي. هغه د دې سازمانونو لپاره جايدادونه خريداري کوي، صنعتي او تجارتي فعاليتونه کوي. واقعي مريی د يو شمير هغه امتيازاتو څخه محروميږي چې خپلواک انسان يې بايد ولري. مثلاً مريی د ملکيت حق نلري ځکه تشبث هم نه سي کولای، د شخصي نظر څرګندولو حق نلري (ځکه نو د جرګو په تساميمو کي ونډه نه سي اخيستلای)، داوطلبانه خدمات نه سي عرضه کولای، مسئوليت نه ورسپارل کيږي. مريی فقط د خپل بادار خدمت کولای سي او مشخص امر به مني او د غلطي په صورت کي بادار سزا ورکوي. ځکه نو د دې مافياوو مخفي مريی د ټولني د ازادو انسانانو په منځ کي بايد يو ډير خطرناکه عنصر وګڼل سي. دا خپلواک انسانان دي چې ملکيت لري، تشبث کوي، د خپل ژوند د اسايش لپاره د نورو خپلواکو انسانانو سره د مشترکو اهدافو لپاره ګډ ژوند د يوه تړون په اساس غوره کوي او حتی نور ازاد انسانان مريان کوي او په خپله قبضه کي يې ساتي څو د خپل بادار امر پر تطبيق کړي (ښه بيلګه يې د شيعه او سني صوفي فرقو پيران، شيخان او اغا ګان دي). لکه نارينه او ښځه د کورنۍ د تاسيس لپاره د واده تړون کوي، کورنياني د خپل خونديتوب او ژوند د اسانتيا لپاره کلي، ښارونه، ايالتونه او هيوادونه جوړوي. د ګډو سرمايو لکه مساجدو، مدارسو، روغتونونو، سړکانو او جغرافيې د ساتني لپاره واکمنان ټاکي چې دا واکمنان بيا بيرته د همدې کورنيو څخه اهل و قابل افراد د ټولنيزو خدماتو لپاره په اجوره دروي. د اجيرانو د مطلوبو قابليتونو د روزني لپاره مدارس، دارالعلومونه، حربي او حرفوي زده کړو مرکزونه جوړوي. د دې کار د مصارفو لپاره د ټولني هر وګړی د خپلو عوايدو يوه برخه ورکوي چې ماليات ورته ويل کيږي. دا چې د ټولني څخه بنسټيزه ګټه هر فرد ته د ګډ ژوند په برکت حاصليږي او دا ګټه د بشر په ټولو لاسته راوړنو کي بنسټيزه ونډه لري نو ځکه الله ج چې د ځان لپاره کومه ماليه (زکات) غوره کړې ده، هغه يې د ټولني د بيوزلو وګړو د بنسټيزو اړتياوو لپاره وقف


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په ځير و لولـئ

کړل. که نه الله تعالی ج په خپله اراده د هر بیوزله اړتیا مستقیماً د پوره کولو بشپړ توان لري چې په دې خبره کې د کوم شک ګنجایش نسته. د دې خبري د ښه وضاحت لپاره به یو کوچی یا خوار بزګر په داسې وحشي سیمه کي خوشي کړو چې د فقط د ژوند بنسټیز لوازم لکه اوبه، ګیاه او ښکار موجود وي او یو به د ښار سرمایه داره په داسي سیمه کي خوشي کړو. بیا کال ځومیاشتي بعد وګورو چې سرمایه داره هلته څومره سرمایه جمع کړې ده (که ژوندی پاته وو، په دې شرط)او په مقابل کي هغه خوار کوچې یا بزګر څومره خپل ژوند سم کړی دی. راته ثابته به سي چې دا د ټولني سرمایه دارانو خپل ثروت د دې ډیرو خلګو په مټ خپل کړی دی، نو ځکه د ټولني بیوزله د سرمایه داره په دنیا کي د زکات په اندازه حق لري. دا سازمانونه د ټولني سرمایه داران د ځان سره شریکوي او د عامو وګړو د استحصال او شکولو کي یې د ځانه سره ملګري کوي. دوئ عام خلګ مفلس او وږي ساتي څو دې ته یې اړ کړي چې د دوئ مریتوب ته غاړه کښیږدي. بل مهم تکتیک د دې سازمانونو دا دی چې په علمي او ادبي ډګر کي استعداد لرونکي او موثره انسانان په خپلو ساختارونو کي جذبوي. د دې ډول جلب و جذب لپاره دوئ په ټولنو کي ډول ډول فرقې راباسي چې په یو شکل د شکلونو د ټولني د ثابتو ارزښتونو سره په ټکر کي وي لکه په اسلامي ټولنو کي شیعګان، اسماعیلیان، بریلویان، اهل الحدیث او په غربي ټولنو کي ایل جي بي ټي کیو، ایف کې کې او داسي نور. داسازمانونه خپل صفوفو د پاکو خلګو څخه تل پاک ساتي او چټل خلګ یې خوښیږي. دا چې پاک خلګ خپلي ټولني ته مخلصه وي نو ځکه د خپلي ټولني قوانینو، اصولو او ارزښتونو ته ځانونه پایبنده ساتي. که یوه ټوله اداره د فاسدانو څخه ډکه وي او تنها یو پاک شخص یې په مینځ کي مقرر سي، د دې ټولوفساد ته بند اچوي نو ځکه دا ټوله هڅه کوي چې د بینه یې یوسي. اکثره په مرموزو وژنو کي داسي خلګ د بینه ځي. دا سازمانونه عموماً په یوه ټولنه کي داسي خلګ استخداموي چې یا خو ځانونه د ټولني د عامو وګړو څخه ډیر فوق ګڼي او یا پردي او یا هم داسي کسان چې د خپلو شهواتو او خواهشاتو په لاره کي خنډ ټولنیز اصول نه مرائتوي. دا سازمانونه تل هڅه کوي چې د خپل وس تر بریده د ټولني د مسئولیت پر موقفونو باندي هم داسي خلګ راسي چې یا خو د ټولني د بنسټیزو اصولو، مقرراتو او قوانینو څخه خبر نه وي او یا یې په قصه کي نه وي. لکه په افغانستان کي رسمي موقفونو کي تل د اقلیتي فرقو او نورو ځایو څخه را ناقل سوي کورنیو غړي ځکه زیات دي چې دوئ د افغاني ټولني د اکثریتي کتلې یعني پښتنو د اسلامي او پښتني ارزښتونو په قصه کي نه دي او د دې ارزښتونو د پاللو په سبب یې د پښتنو څخه نفرت هم راځي. په افغانستان او پاکستان کي د پښتنو او بلوڅو د توکموژني یو عامل دا وو چې د دې ټبر مشرانو په شخصي چوکاټ کي د دولتونو څخه امتیازات غوښتي وه نه په قومي یا ملي چوکاټ کي. مثلاً زموږ کوم مشر په پاکستان یا افغانستان کي دې ته توجه کړې ده چې د اردو، پولیسو، ملکي خدماتي یا اکاډمیکو ادارو کي یا د قراردادونو او شرکتونو د جوازونو په حصول کي دي د خپلو خلګو په ونډه پسي ګرزیدلی وي. پایله یې دا ده چې په هر هیواد کي ځای میشتي ولسونه پایمال دي. د یهودي سازمانونه د دولتونو د انحصار په لاره کي مریانو ته زیاته اړتیا لري. او دوئ خپله دا اړتیا پر ضعیفه ملتونو باندي د جګړې د تحمیلولو د لارې تسکینوي. بیا هم دامریان پیاوړو ملتونو قلمرو ته راولي او هغه کارونه په کوي چې ځای میشتي وګړي به په مرګ هم ورته رواداره نه سي.

د ټولني د معنویاتو تحریف هغه لمړۍ حربه ده چې دا سازمانونه کار ځني اخلي چې په واقعیت کي د ټولني د انحلال لپاره لاره هواروي. په دې برخه کي ښه مثال د الهي ادیانو راوستلای سو. د یهودو ملایانو د خپل وخت د اشغالګري امپراتوري سره د مخفي معاملې په ترڅ کي د تورات اوزبور احکام تحریف کړل او په دې لاره کي خنډ حضرت زکریا علیه سلام او حضرت یحیی علیه سلام یې په شهادت ورسول. الله تعالی ج عیسی علیه سلام د نوي شریعت سره مبعوث کړ او انجیل یې ورته اعطاء کړ او معجزې یې ورکړې څو خلګ د ملایانو د درغلي څخه آګاه کړي (د نوي شریعت د نشعت پروګرام اصلاً د سرور کاینات پیغمبر اکرم ص د بعثت سره پیلیدونکی وو). دوئ د هغه مبارک علیه سلام د شهادت هڅه وکړل. عیسی علیه سلام د الهي ارادې په اساس ژوندی او سالم اسمانونو ته ولاړ چې ځمکي ته بیرته راتګ او دلته د پاته ژوند د تیرولو وعده یې موجوده ده . دوئ انجیل هم تحریف کړ. الله تعالی ج خپل وروستی نبي حضرت محمد ص د شریعت سره په داسي ټولنه کي مبعوث کړ چې د دوئ د مستقیم واکه وتلې وه او خپل شریعت یې په ټوله نړۍ کي خپور کړ. نن د الله ج کتاب د هر خوار او غریب په کور کي پروت دی. دې یهودو هر څه وکړل، ولسونو ته یې رشوتونه ورکړل. اسلامي سیاسي نظام ړنګ سو خو الهي شریعت باقي پاته سو. د شعوبیه تحریک پیل سو چې وروسته د شیعه او شرکي صوفي فرقو په ډول پراختیا وموندله. د صحاح سته ډرامه یې پسي جوړه کړل چې د سلفي یا اهل الحدیثو فرقوي سلسلو موجب سول خو د قرآني تعلیماتو عملي تفسیر نبوي سنت د څلورو سترو اسلامي فقهو او بالخصوص د حنفي فقهي په شکل د وخته لا محفوظه سوی وو.

نور بیا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولــئ